خپلې ګټې وپېژنئ:

د کډوالو مهاجرو



# او پناه ترلاسه کونکو لپاره یو لارښود

**که تاسو یو کډوال یاست یا د پناه تصویب شوی حالت لرئ، نو د میډیکېډ بدلونونه را روان دي. دا هغه څه دي چې باید ترې خبر شئ.**

- تاسو به په اکتوبر 1، 2026 د میډیکېډ لپاره وړتیا له لاسه ورکړئ.
- مګر، د پناه یا کډوالۍ حیثیت له ترلاسه کولو وروسته، تاسو 8 میاشتو لپاره د کډوالو د طبي مرستو (Refugee Medical Assistance) پوښښ لپاره وړ یاست. تاسو کولی شئ د غوښتنلیک ورکولو لپاره خپل ځايي DSS دفتر سره اړیکه ونیسئ. نور معلومات دلته شتون لري.
- که تاسو په رسمي توګه یو کډوال یا پناه ترلاسه کونکي یاست او اوس مو دایمي قانوني استوګنه (ګرین کارت) ترلاسه کړې وي، نو د ګرین کارت له ترلاسه کولو وروسته (پرته د انتظار له کومې مودې) د میډیکېډ لپاره سمدستي وړ ګرځئ.
- که تاسو د وړتیا ټول نور معیارونه پوره کوئ، نو د کډوالۍ یا د پناه ترلاسه کونکي وضعیت ترلاسه کولو سره سم د TANF (د کار پر بنسټ نغدي مرستې) او اضافي امنیتي عاید (Supplemental Security Income) لپاره وړ ګرځئ. د ګرین کارت له ترلاسه کولو وروسته، تاسو سمدستي SNAP (د خوړو د مرستې کوپنونو) لپاره هم وړ ګرځئ.
    - کډوال په متحده ایالاتو کې د یو کال تیرولو وروسته ګرین کارډ لپاره غوښتنه کولی شي.
    - پناه ترلاسه کونکي په متحده ایالاتو کې د یو کال تیرولو وروسته د پناه تصویب شوي حالت سره د ګرین کارت لپاره غوښتنه کولی شي.

**د ګرین کارت منظورۍ لپاره د انتظار موده کیدی شي اوږده وي؛ نو که تاسو تراوسه د ګرین کارت ترلاسه کولو پروسه نه ده پیل کړې، باید ژر تر ژره له یوه وکیل سره مشوره وکړئ.**

**هغه کډوال او پناه ترلاسه کونکي، چې امیندواره میرمنې یا له 19 کالو څخه کم عمره ماشومان دي، به د اکتوبر 1، 2026 وروسته هم د میډیکېډ لپاره وړ پاتې شي، حتی که خپل ګرین کارتونه یې ترلاسه کړي هم نه وي.**

- که تاسو کډوال یا پناه ترلاسه کونکي یاست او ګرین کارت مو لا نه دی ترلاسه کړی، نو د لاندې پروګرامونو لپاره وړ یاست، په دې شرط چې د وړتیا ټول نور معیارونه پوره کړئ:
    - د Healthcare.gov لخوا د روغتیا پوښښ (مګر یوازې تر دسمبر 31، 2026 پورې)
    - د ښځو، کوچنیانو او ماشومانو د تغذیې پروګرام (WIC)
    - د ښوونځي لنچ (د غرمې ډوډۍ) او د سهار چای
    - د ټولنیز امنیت معلولیت او ټولنیز امنیت تقاعد

د ارزانه یا بې لګښته روغتیایي پاملرنې/نسخه شویو درملو موندلو-، د ګټو لپاره غوښتنه کولو، د ځایی خوړو یا د کور اختیارونو موندلو او کې زموږ د روغتیایي bit.ly/NCJCHealthResources نورو لپاره، په سرچینو پاڼه وګورئ

**د کډوالو او پناه غوښتونکو د حقونو ډله د کډوالو پلوه عامه تګلارې ته د ودې ورکولو او ستراتیژیک حقوقي استازیتوب د وړاندې کولو له لارې د کډوالو او پناه غوښتونکو حقونه ساتي او دفاع ترې کوي.**

NORTH CAROLINA
JUSTICE CENTER

PO Box 28068 | Raleigh, NC 27611
(919) 856-2570 | www.ncjustice.org